دافغانستان اسلامی جمهوریت
د انتخاباتي شکايتونو کميسيون

جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون شکایات انتخاباتی

Islamic Republic of Afghanistan
Electoral Complaints Commission

---

**خبرپاڼه**

**د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون له دولتي منابعو نه په ناوړه استفادې بندیز ولګاوه**

**د ۲۰۰۹ کال د اګست ۱۰ مه**

د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون (ECC) د افغان ولسمشر په دویم مرستیال او د ټولټاکنو لپاره د کرزی د مرستیالی لپاره نوماند محمد کریم خلیلی باندی د ۷۵۰۰۰ افغانیو نغدي جریمې د لګولو اعلان وکړ. د دې کار دلیل د ټاکنو قانون د ۵۳ مې مادې او د ټاکنو د څېلواک کمیسیون د ۲مې فقرې ۶مې مادې او ۴ مې فقرې ۷ مې مادې د ټاکنیز مبارزاتو د اصولو څخه سرغړونه ښودل شوېده.

محمد کریم خلیلي د ملي دفاع وزارت چورلکې د کمپاین په موخه کارولې دي. پرته له دې چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون پالیسي چې د ټولو کاندیدانو لپاره د دولتي چورلکو د کارولو په موخه خپره شوې پیروي وکړي.

د جمهوری ریاست کاندیدان یوازې د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته **د رسمي درخواست له لارې کولای شي** چې د ملي دفاع وزارت چورلکې د کمپاینونو په موخه وکاروي. **د جمهوري ریاست له کاندیدانو څخه هیله کیږي چې د نورو معلوماتو لپاره د انتخاباتو خپلواک کمیسیون سره اړیکي ونیسي.**

**د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون له ټولو دولتي چاروکو غږ کوي چې د ټاکنیزو مبارزو په پاتې موده کې دې بېطرفه پاتې شي**

د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون په یو شمېر هغه شکایتونو چې د ټاکنیزو مبارزو په جریان کې د دولتي چاروکو د کړنو او له دولتي منابعو نه د ناوړې استفادې په اړه شوي دي څېړنه کوي او ډېر ژر به، بې له کومې استثنا خپلې پرېکړې اعلان کړي. لکه څرنګه چې د ټاکنیزو مبارزو دوره د پای مرحلو ته نژدې ده، د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون په ټولو دولتي چاروکو په ټاکنیزو مبارزو کې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د اوومې مادې د رعایت غږ کوي، چې په لاندې ډول تشریح کېږي:

د دولتي ادارو چاروکي د ټاکنیزو مبارزو په جریان کې باید لاندې ټکي مراعات کړي:

۱.د دندې پر مهال د یوې مشخصې ډلې یا کاندید په ملاتړ یا مخالفت له مسقیمي یا غیر مستقیمي مداخلي څخه ډډه وکړي.

۲.په ناستو، غونډو او سوله ایزو راټولېدنو کې دې له لاس وهني او مداخلې ډډه وکړي.

۳.د کوم کاندید په ملاتړ یا مخالفت کې، د امتیازي شیانو په اساس د ښه یا بد ویلو نه ډډه وکړي.

۴.د کوم کاندید په ملاتړ یا مخالفت د دولتي اسانتیاوو له کارولو ډډه وکړي.

د کاندیدانو د تبلیغاتي شیانو، نورو موادو او د دوی د پوسترونو له ویجاړولو او څیرلو څخه ډډه وکړي.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره په لاندې پته اړیکي ونیسئ:

احمد مسلم خرم
Ahmad.muslim@ecc.org.af
+93(0)798188605